# پر حرص برلاسي کېدل



(ژباړه)

**(وَأَمَّا مَن بَخِلَ وَاسْتَغْنَىٰ وَكَذَّبَ بِالْحُسْنَىٰ فَسَنُيَسِّرُهُ لِلْعُسْرَىٰ وَمَا يُغْنِي عَنْهُ مَالُهُ إِذَا تَرَدَّى)**

[لیل: ۸- ۱۱]

*ژباړه: چا چې بخیلي وکړه او ( له خپل خدای څخه یې) بې پروایي وکړه او نیکي یې دروغ وګڼله، مغوی ته به موږ سخت ځای ( دوزخ) ته د ورتګ لار اسانه کړو، هغه مهال به یې مال څه په درد ورته وخوری، کله چې تبا شي او په کنده کې ولوېږي.*

د یوه خوشحاله ژوند لپاره څه شی بسنه کوي؟ کېدای شي دغې پوښتنې ته سلګونه ځوابونه ورکړو. په حقیقت کې دا ځواب ډېر اوږد او بنسټیز دی او ستاسې بې‌لابېلې او نوې ازادي ګانې ښکاره کوي. اسلام د یو کس لپاره د الله سبحانه وتعالی له رضا سره د خپلو هیلو ارتباط ورکول ډېره اسانه کړي دي. الله سبحانه وتعالی موږ ته حق راکړی د هغه څه په لاس ته راوړلو کې چې حرام نه وي، هڅه وکړو.

موږ په خپل تاریخ کې داسې کسان لرل چې غټې پانګې یې درلودې او د هغو له ګټو برخمن وو؛ خو داسې حالت راغی چې یوه شېبه یې هم فکر ونه کړ، چې هغه د الله سبحانه تعالی په لار کې نفقه کړي؛ خو دا کار هغه وخت شونی دی چې یو مسلمان دا درک کړې وي، چې سعادت یوازې د الله سبحانه وتعالی په رضا کې دی او یوازې هغه څه چې موږ یې باید حریص وو، د دنیا او اخرت بریالیتوب دی.

په حقیقت کې د مسلمانانو د انحطاط بنسټ همدا حرص او خیانت دئ. دا حرص د پانګوالي نظام دی، چې خلک یې د پیسو لاسته راوړلو په ماشین اړولي دي. هغه حرص چې ابو العزیز ابن سعود یې اړ کړ چې امت او خپل اخرت پر کفارو وپلوري، هغه حرص چې لاسپوڅي چاراوکي یې اړ کړل چې پر خپلو بې ګناه خلکو ناوړه ظلمونه وکړي او دا حرص و چې د ترکیې دولت د سوریې خلک پرېښودل چې مړه شي. هغه حرص چې د پاکستان اوردو د کشمیر له ازادولو منع کوي، هغه حرص چې ال سعود یې تر ټولو ډېر جذب کړی او هغه حرص چې د مسلمانانو حکامو واک او پانګه یې نا توانه کړې.

د مسلمانانو خلیفه عمر بن عبدالعزیز الله رحمة علیه فرمایلي دي: «زما زړه د دنیا هېڅ مال نه غواړي، چې زړه پرې بایلم؛ خو د غوره څیز هیله کوي، زما زړه جنت غواړي که ترلاسه شي په دنیا کې تر هغه غبت څه نشته.» که حاکم داسې وي، نو رعیت به یې څنګه وي؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:

**«یوشك الأمم أن تداعی علیکم کما تداعی الأکلة إلی قصعتها فقال قائل ومن قلة نحن یومئذ قال بل أنتم یومئذ کثیر ولکنکم غثاء کغثاء السیل ولینزعن الله من صدور عدوکم المهابة منکم ولیقذفن الله في قلوبکم الوهن» فقال قائل یا رسول الله وما الوهن قال: «حب الدنیا وکراهیة الموت»**

*ژباړه: ستاسو د دښمنانو له زړونو څخه به هغه وېره ووځي چې له تاسې څخه یې لري او ستاسو په زړونو کې به وهن پیدا شي. یوه وپوښتل: اې د الله رسوله! وهن څه ته وایي؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: له دنیا سره مینه او مرګ له یاده ایستل.*

له دنیا سره مینه چې زموږ په بدن کې پیچکاري شوې د دنیا له مادیاتو څخه ده چې زموږ په ټولنه کې شته. موږ یې په روښن فکره او غښتلو کسانو بدل کړي یو او د نورو د مالونو لاسته راوړلو مینه چې خلک یې حرامو ته اړ کړي دي.

په دې وروستیو کې په پاکستان د واده مراسمو نمانځلو نوې دوړ، چې د واده مراسمو د نمانځلو اوږد نوم لړي پیدا شوی. دا لمانځنه یو کال دوام کوي او لویه ننداره رامنځته کوي. په حقیقت کې دا د پانګې ښودنه ده، چې پر حسادت سربېره، په نورو کې د پانګې لاسته راوړلو حرص دېروي، که دا کار د خلکو غولوني او یا په دام کې اچولو له لارې وي، باید ترلاسه شي. زموږ په یاد دي، چې همدا حرص و چې یهودان یې الله سبحانه وتعالی ته ذلیل کړل او هغوی یې اړ کړل چې د الله سبحانه وتعالی نافرمانی وکړي.

**(وَلَتَجِدَنَّهُمْ أَحْرَصَ النَّاسِ عَلَى حَيَاةٍ وَمِنَ الَّذِينَ أَشْرَكُواْ يَوَدُّ أَحَدُهُمْ لَوْ يُعَمَّرُ أَلْفَ سَنَةٍ وَمَا هُوَ بِمُزَحْزِحِهِ مِنَ الْعَذَابِ أَن يُعَمَّرَ وَاللّهُ بَصِيرٌ بِمَا يَعْمَلُونَ)**

[بقره: ۹۶]

*ژباړه: ته به هغوی (یهودان) له بل هر چا څخه د ژوند حریصان ومومې، ان تر دې چې دوی په دې کار کې له مشرکانو څخه هم وړاندې شوي دي، هر یو دا غواړي چې زر کاله ژوند وکړي، په داسې حال کې چې اوږد عمر هغوی له عذابه نشي ژغورلی، څه عملونه چې دوی کوي الله سبحانه وتعالی خو هغه وینې.*

موږ مسلمانان باید په دې پوه شوو چې دا حرص موږ د الله سبحانه وتعالی نافرمانی ته اړ کوي او د دنیا لاسته راوړلو هیلې مو ګمراه کوي. موږ باید د انفاق لارې زده کړو او باید د خپلو ورونو او خویندو د حق لپاره خپل غږ پورته کړو، هغه حق چې نن ورځ ظالمو چارواکو غصب کړی دی.

**لیکواله: اخلاق جهان**

**د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر لپاره**

**۱۴۳۸هـ.ق، د رمضان۲۳مه**

**۲۰۱۷م، د جون ۱۸مه**